آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

نجیب منلی ۲۰۱۹/۰۱/۲۶

# که زه کاندید وای
# ولسي پانګه

ښېړمه برخه

د نـوي نظام لـه راتـلـو سـره، د بـازار د اقتصاد پـه نـامـه، د نړسـوالـو مـرسـتـو ډېـره بـرخــه پـه یـو ډول او بـل دول د افـرادو لاس تـه ورغـلـه.

په دې موده کې له اقتصادي پلوه د افغانانو تر منځ تفاوتونه د انقطاب پر لور ولاړل، خواران لا پسې خوار شول، شتمن لا شتمن شول او په منځنی طبقه کې ګڼ شمېر د خوارۍ خوا ته ولاړل او کم شمېر یې لوړ منځني قشر ته واووښتل.

د افغانستان سـړي سر کورنی ناخالص تولید په ۲۰۰۰ م کال کې ۱۱۷ ډالره و او په ۲۰۱۲ کې ۶۶۹ ډالرو ته ورسېد.

د ملي اقتصاد دغه ناڅاپي پرسوب که له یوې مخې د افغانستان په لویو ښارونو کې د نوي ژوند ظواهر (لوړ بلډنګونه، تجملي لګښتونه، د مصرفي توکیو ګرم بازار،...) زیات کړل، ورسره یې ګڼ شمېر افغانان د فقر ترکرښې لاندې خواته واړول (که څه هم د دقیقو شمېرو او احصاییو نه شتون د افغانستان د اقتصاد په اړه د قطعي حکمونو شونتیا کمه کړې ده، خو بیا هم دا ټکی چې په ۲۰۱۸ کال کې تر ٪۵۴ زیات افغانان – دیارلس ملیونه وګړي - غذایي مصوونیت نه لري د اقتصادي انقطاب یوه ښه بېلګه بلل کېدای شي).

د شتمنیو ناڅاپي او مصنوعي ډېرېدا، چې د ژورو فرهنګي بدلونونو او په ټولنیز-اقتصادي چاپېریال کې د محسوس تغییر سره مله نه وه، له یوې خوا د دې باعث شوه چې تجملاتي لګښتونه په پراخه پیمانه هیواد ته راغلي پانګه بېرته له هیواده وباسي او له بلې خوا یې پر کور دننه د نغدو پیسو حجم په بې ساري توګه لوړ کړ.

د افغانستان ناخالصه سپما د کورني ناخالص تولید ۴،۵ سلنه جوړوي. ناخالصه سپما د کورني ناخالص تولید هغه برخه ده چې نه لګول کېږي. د افغانستان داقتصاد عمومي وضعیت ته په کتو د ناخالصې سپما یوه مهمه برخه د کورنیو او افرادو سپما جوړوي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په افغانستان کي د بانکي سيستم کمزورتياوي او پر بانکي سيستم د خلکو بې باوري د دې لامل ده چې ډېر لږ خلک خپلې نغدي شتمنۍ بانکونو ته سپاري. د افغانستان په بانکونو کي د خلکو اېښودل شوي پيسي په ۲۰۱۶ کال کي شاوخوا درې نيم مليارده ډالرو ته رسېدلي دي. ويل کېږي چې د افغانستان د وګړو يوازې ۳٪ خپلې پيسې بانک ته سپاري.

د دقيقو احصاييو په نه شتون کي د پورته ارقامو له څېړني دا اټکل کېدای شي چې د شاوخوا پنځوس ملياردو ډالرو په ارزښت نغدې پيسې د خلکو په کورونو کي شته. دا هغه پټه او راکده پانګه ده چې دولت کولای شي چې تر باورجوړوني وروسته يې د هېواد د بنسټيزو جوړښتونو د رغولو له پاره په کار واچوي.

« د ملي پراختيا د ونډو صندوق» کېدای شي هغه وسيله وي چې په مټ يې ولسي پانګه په ملي اقتصاد کي شامله شي.

د دې ميکانيزم له مخې به دولت خلکو ته د هغوی د نغدو پيسو په بدل کي، په بازار کي د تبادلې وړ د ونډو سند ورکوي.

د دې له پاره چې د خلکو باور ترلاسه شي، دولت به د دغه صندوق شتمنۍ د نړۍ والو تضمينونو په ايجادولو خوندي کوي ياني که هر ډول طبيعي، اقتصادي يا سياسي بدلون رامنځ ته کېږي، د پيسو خاوند به ډاډمن وي چې ونډې به يې تر منل شوي اصلي قيمت ښکته نه ځي. هرکال به دولت د جوړو شوو زېربناوو د ارزوني پر اساس د ونډو خاوندانو ته ګټه ورکوي. د دې له پاره چې دا سيستم د سود تر حکم لاندې را نه شي، د ګټي کچه به د بازار له اصولو سره سم هر کال ټاکل کېږي.

د باور جوړولو موضوع د دې برنامې محوري خبره ده. د افغانستان سياسي او امنيتي اوضاعو ته په کتو ګرانه ده چې خلک سم د لاسه د دولت پر ژمنو او د ژمنو د عملي کولو پر وړتيا باور وکړي. کله چې صندوق خپل برياليتوب ښکاره کړ، بيا د باور ستونزه په خپله له منځه ځي خو تر هغه مهاله په کار ده چې دولت هغه پروژې چې له دې لارې تمويلېږي له يوه نړۍ وال بيمه کوونکي اورګان سره بيمه کړي او يا له نړۍ والو سازمانونو (نړۍوال بانک، د پيسو نړۍ وال صندوق، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام، ...) سره د سپارل شوو پيسو د تضمين له پاره تفاهم وکړي. دا ډول تفاهم کېدای شي د نورو هېوادونو له پاره هم «د زريزې د پراختيا اهداف» (Millennium Development Goals - MDGs) د پروګرام له پاره د يو سرمشق په توګه وکارول شي.

د ونډو دغه صندوق کولای شي چې په نسبتاً کم وخت کي، تر لسو ملياردو ډالرو پورې نغدې پيسې د هېواد د زېربناوو د رغولو له پاره مهيا کړي.

## يادونه:

که چېرې ګران لوستونکي و غواړي چې د دې ليکوال نورې ليکنې هم ولولي، نو کولای سی چې، پر انځور باندې د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکي مقالې د «آرشيف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړي!